UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتي اعلامیه
http://unama.unmissions.org

# یوناما د ټاکنو د وروستیو پایلو هرکلی کوي

کابل، د ۲۰۱۴ کال د می ۱۵ نیټه- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د وري د ۱۶ نیټې د ولسمشریزو ټاکنو د نن ورځې د وروستیو پایلو هرکلی کوی.

یوناما افغان وګړو، نوماندانواو د هیواد ټاکنیزو او امنیتي ادارو ته د دغې ډیموکراتیکې پېښې له امله مبارکي وایي. په دغو ټاکنو کې په میلیونونو افغان وګړو په پوره هوډ خپلې رایې وکارولې، همدارنګه یوناما تمه لري، چې د ولسمشریزو ټاکنو په دویم پړاو کې هم په پوره لیوالتیا سره ګډون وکړي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي او د یوناما مشر ښاغلي یان کوبیش وویل: "افغانان کولای شي پر خپلو ټاکنو و ویاړي. د ټاکنو په ورځ افغانانو، ښځینه وو او نارینه وو خپله هیله مندي څرګنده کړه، چې په سوله، ویاړ او هوساینې کې ژوند وکړي. ډیموکراتیک انتخاب په تاوتریخوالي او جبر واکمن و."

"زه همدارنګه ټول نوماندان ستایم چې سخت خو مثبت کمپاینونه یې ترسره کړل. څرنګه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون په لومړي پړاو کې هیڅ یو نوماند د ګټونکي په څیر نه دی پیژندلی، زه پر ټولو نوماندانو غږ کوم چې پایلو او دولتمدارۍ ته درناوي وکړي، په داسې حال کې چې دغه بهیر د دویم پړاو په لور روان دی."

یوناما مشاهده کړې، چې دغه پروسه په داسې ټاکنو تمامه شوه، چې د تیرو هغو په پرتله پرمختګ په ډاګه کوي. د لومړي ځل لپاره ټاکنې د هغو قوانینو پر بنسټ ترسره شوې، چې د ملي شورا له خوا تصویب شوې وه، نه د ولسمشر د فرمان له مخې. دغه ټاکنې د لومړي ځل لپاره کاملا د افغانانو له خوا د دوو خپلواکو ټاکنیزو ادارو له خوا تنظیم شوې وې، چې دغه دواړه اداري د قوانینو پر بنسټ جوړې شوې دي.

د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی، همدارنګه د افغانستان د دوو ټاکنیزو ادارو هغه هڅې تصدیق کوی چې د رایې اچولو، شمیرلو او د شکایتونو په څیرلو کې یې له زیات شفافیت څخه کار اخیستی دی. پلاوي مشاهده کړې، چې د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون پر ټولو هغو شکایتونو قضاوت کړی، چې دوي ته په رسمي ډول د ټاکلې نیټې له پای ته رسیدو څخه مخکې رسیدلي وو.

ځانګړي استازي وويل:" زه د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون دې ته هڅوم، چې د خپلو چارو لا ښه والي ته د لومړي پړاو د نيمګړتياوو او سرغړونو څخه د تر لاسه کړای شويو زده کړو په رڼا کې دوام ورکړي. په ځانګړي ډول هغوي دې ته تشويقوم، چې د لا زيات شفافيت لپاره هڅه وکړي او د نوماندانو او د ناظرينو شکايتونو او سپارښتنو ته په خپل وخت او کره ځوابونه برابر کړي او له نوماندانو او عامو وګړو سره په فعال ډول خپلې پريکړې شريکې کړي. افغانان بايد ډاډه شي، چې ټولې سمې او اعتباري رايې به شمېرلې کيږي او جعلي هغه به يې باطليږي."

ښاغلي کوبيش همدارنګه د افغان ناظرينو نقش د درغليو په مخنيوي او پيژندلو کې وستايه. "د دوي رول به په بل پړاو کې هم زيات ارزښتناک وي."

په داسې حال کې چې ټاکنې دويم پړاو ته ځي يوناما اوس د ټاکنيزو ادارو او نوماندانو ترمنځ د همکارۍ پر اهميت ټينګار کوي، څو ملي يو والی او ټيکاو وساتل شي.

ښاغلي کوبيش زياته کړه: "هيله مند يم چې د درناوي ډکه لهجه چې په لومړي پړاو کې مسلطه وه بايد په راتلونکو اونيو کې هماغه شان وساتله شي. نوماندان د دې مسووليت لري، چې پر خپلو ملاتړ غږ وکړي، څو له ويرې، ګواښونو او پارونکو ويناوو څخه ډډه وکړي."

"نوماندان همدارنګه بايد خپلو ملاتړو ته لارښوونه وکړي څو د دوي په استازيتوب درغلي و نه کړي، ځکه چې دغه کار دوي او راتلونکي حکومت او ولسمشر بې اعتباره کوي. دغه راز د درغليو پېره نه بايد په يوازينې ډول د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ته منسوبه شي، بلکې نوماندان هم بايد له دغو ادارو سره کار وکړي، څو د هر ډول درغليو د بيا رامنځ ته کيدو مخنيوي وشي."

يوناما زياته کړه، چې حکومت او د ټاکنيزو چارو چارواکي چې په درغليو کې ښکېل وه، بايد د خپلو کړنو له امله حساب ورکولو ته حاضر شي او د قانون سره سم بايد د جنايي تعقيب په موخه قضايي چارواکو ته ور وپيژندل شي.

***

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**

**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**